نعمان دوست

۲۰۲۲/۱۱/۱۶

انعام

(لنډه کیسه)

چې څنګه یې د موټر ور نیمه پرانیست، موبایل ته یې زنګ راغی.

دوه درې خبرې یې وکړې، مقابل لوري ورته د چا نوم او د تیلفون شمېره ښودله.

د موټر له سوچ بورډ یې قلم او کتابچه راواخیسته، یوه لاس کې یې موبایل و، په بل لاس یې راوتلې خیټه ورو ـ ورو مښله، اخوا دیخوا یې کتل او بیا یې په خندا ویل: لږ صبر چې کوم لیکلو والا پیدا شي.

د سړک تر غاړې، لاسي بار وړونکي کراچۍ ته ولاړ ماشوم، یې دا خبره واوریده. سړي ته ور نږدې شو. ژر یې دواړه لاسونه په کالیو وموښل.

موبایل والا، ټیټ او پاس ور وکتل.

په نه زړه یې قلم او کتابچه ور کړل.

ماشوم، نوم او شمېره یاداشت کړه او بیا یې سړي ته تکرار کړه.

هغه یې پر سر لاس ور تیر کړ او بیا یې ورته ویل:

ماشومه، دا څه خورې چې دومره هوښیار یې!؟

ماشوم، موسک شو او ښکته یې وکتل.

سړي یې پر اوږه لاس کیښود:

آفرین، د انعام لایق یې، وایه څه درته واخلم؟

ماشوم، سر راپورته کړ. مخامخ د نانوایي دوکان کې ځوړندې ډوډۍ ته یې ګوته ونیوله او لاس یې لړزیده.

۱٤۰۱/ عقرب/ ۲٤

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ